مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۰۳

# کوندو یتیمانو پــه ډوډۍ پسې ساه ورکړله

اورم د اتل قام د غـرور د جـنـازې اعلان
ښکاري دلته شوی د شعور دجنازې اعلان

کونډو یتیمانو پـه ډوډۍ پسې ساه ورکړله
و شـو د نـهر ښار پر تـنـور د جنازې اعلان

چـا چـې بینـایي ورتـه پـه قتل رسـولي ده
اوري یې اوس څومره په سرور د جنازې اعلان

غټې غټې ګېډې د خـانـانـو پـه مرموز آواز
کړې د بېنواوو؛ د مـزدور د جـنـازې اعلان

چا چې د ملت د ارزښتونو نـه سـاه ويستې ده
کـېـږي د هغو خلکو ضـرور د جـنـازې اعـلان

ګډ یې انـالحق کې و بـاوره د خـالـق آواز
خپلو وینو وکړ د منصـور د جـنـازې اعلان





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ